# نو دوی باید

## څه وکړي؟

Ketabton.com

لیو [illegible]لو[illegible]توی [illegible]و ارزښ[illegible] که اثر [illegible]ي [illegible]ر [illegible]چند [illegible]خو[illegible] د[illegible] مف[illegible]وم [illegible]و[illegible] د[illegible] چې په [illegible]وستا[illegible] ارز[illegible] او باید د
دې لوی لیکوال د فکر څخه پښتون قوم هم خبر سي

**لیکوال: لېو تولوستوی**
**ژباړونکی معتصم شاهد**

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د کتاب اړوند

لیکوال: لېو تولوستوی

ژباونکی: معتصم بالله شاهد

د خپرېدو کال: ۲۰۲۳ ز

د ژباړنکي سره د تماس او واټ ساپ شماره: ۰۷۷۳۶۹۱۶۹۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډالۍ

**مور پلار استادانو او کورنۍ ته**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# يوه څرګندونه

پہ دې تورتم کي سخ د هغو ماشومانو پہ حال

چي لكه شمعه پر سر چتر د رڼا ونسي

استاد معتصم شاهد له وخته پر فسبوک را سره ملګری دئ، د ادبیاتو د پوهنځي استاد دئ، موده وړاندي يې د ښکلا پېژندنه تر عنوان لاندي يو كتاب په پي ډي ايف بڼه خپور کړ ، زما په خيال چي دا به په پښتو ژبه کي يو نا اشنا عنوان وي ( جماليات ).

اوس يې تازه په تازه د لېو تولوستوی اثر چي په ۱۶۸۰ ز مو كلونو کي ليكل شوی او سمدستي پر انګريزي ژبي هم ژباړل شوی دئ په پښتو ژبه ژباړلی دئ تر دې عنوان وړاندي ډاکټر لطيف بهاند د تولوستوی جګړه او سوله كتاب له روسي ژبي غالبا په پنځه ټوکه کي ژباړلی دئ.

تولوستوی يو پراګراماتيک ليكوال وو د ليكني مشهور تيمونه يې ( ځواني مرګ غربت مينه او ... . )د عملي ژوند څه دي او اسانه دي چي و لوستل شي كه څه هم ګڼو روسي سياسي چارواکو له ده نه کرکه لرله خو لينن ترې متاثره وو او دی يې د روشن انقلاب هنداره او يو عظيم هنرمند باله چي د روسيې شفاف تصوير يې په ليكنو کي پروت دئ.

نه پوهېږم؟ برداشتونه مختلف دي ځنګه هغه څوک چي په امر يې په پنځوس لكه انسانان تر خاورو لاندي دي له تولوستوی سره مينه لرلی سي ځكه تولوستوی يو د هغه لومړنيو ليكوالانو څخه دئ د عدم تشدد فلسفه يې په ليكنو کي لكه د نيمي ورځي لمر له ورايه ښكاري مهاتما ګاندي او مارتين لوټر په ژوره توګه ترې متاثره دي د ګاندي د عدم تشدد فلسفه د تولوستوی د فلسفې انكشاف دئ.

د استاد ژباړه په دوو لاملونو په ښو لوستلو ارزي يو دا چي استاد د ادبياتو مسلكي دئ او باوري يم چي ژباړه به يې زموږ د توقع لوړه وي كمه به نه وي لكه پخواني تاليف ښكلا پېژندنه يې دوهم دا چي دا كتاب د كوم ټرنډ ليكوال بريان ټريسي روبين شرما او ... نه دئ د نړۍ د فرسټ كلاس د ليكوالو له جملې څخه دئ چي واقعا مو د مطالعې تنده در ماتوي!

استاد ته د دې اثر د تكميل ډېره ډېره مباركي وايم خدای ج دي موږ ته د ښو لوستلو توفيق راكړي خوشحال په دې يم چي اوس هم يو څوک سته چي د لاري د سر له دوړو ور آخوا هم يو څه ژباړي او فقط د خواري پښتو د ښه خدمت په نيت . كور دي ودان استاده.

په درنښت

ban babakerkhil

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ژباړونکي خبري

دوی څه باید وکړي؟ خو په انګریزي ژباړه کي یې نوم ورته موږ باید څه وکړو؟ ورته اېښی ما چي عربي او دري ژبه کي د کتاب نوم ولیدئ نو هلته یې هم په لږ توپیر سره مثلا دري کي څه باید وسي او په عربي ژبه کي دوی باید څه وکړي نو ما هم عربي غوره وبلل او همدا نوم مي ورته کښېښوئ.

دغه کتاب د روسي لوی لیکوال لېوتلوستوی اثر دئ چي د غریبانو او سوال کونکو حالات یې پکښې لیکلي دي دغه کتاب اوس هم زموږ د ټولني دپاره یو ښه کتاب ځکه دئ چي زموږ ټولنه اوس هم د فقر څخه زوریږي.

فقر خورا زورونکی مرض دئ ځکه چي موږ نه سو کولای خپله ټولنه تري خلاصه کو لکه څه ډول چي لیکوال وایي چي موږ که هر څومره زیاتي پیسي- و غریبانو ته ورکړو نو هغه هم دغه پیسې بربادوي او بیرته خپلي لاري ته راګرځي.

ما د دغه کتاب د پای څخه بعضي موضوعات چي تقریبا یو څو کرښي دي لري کړي ځکه چي اوسني حالت، ټولني او خپلو ضرورتونو ته په کتو باید موږ همداسي وکړو تر څو مو ټولني ته خیر ورسېږي او شر څخه هم خپله ټولنه او هم خپل ځان لري و ساتو.

ما کوښښ کړی چي مفهوم په پښتو اصطلاحاتو کي تر تاسو ورسوو او تاسو یې لوستلو ته رابولو که چیرته زموږ څخه په دې ژباړه کي د ژباړې اصول نه وي مراعات سوې نو ستاسو درنو لوستونکو څخه هیله لرو چي موږ و بخښئ ځکه انسان له خطاوو څخه خلاص نه دئ نو ستاسو ټولو لوستونکو څخه یوه نړۍ مننه کوم چي زموږ ناچیزه هڅه لولئ او خپل ارزښتناکه وخت زموږ ناچېزه ژباړي ته ورکوئ.

مینه او مننه

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دوى باید څه وکړي

البته فقر او غربت مي لیدلی وو خو هغه فقر او غربت چي ما پـه مسکو کـي ولیـدلی زمـا دپاره نوی وو او هیڅ وخت ور څخه نه یم بیغمه سوی په مسکو کي چي هر قدم بږدې نو د عجیب او غریبو فقیرانو سره به مخ سې چي تر اوسه به دي نه وي لیدلې دلته پر ورږو یو ډوَل خلتې لري کور په کور گرځي او د خوراک دپاره یو څه غواړي .خـو هلتـه فقیـران د ښار په هره برخه کي ۋلاړ دي او په عجب انداز درگوري او پیسې درنه غـواړي، د هرچـا خواتـه چـي ورسي پـه عـاجزۍ سره لاس ورتـه اوږدوي او د کومـک غوښـتنه ور څخـه کوي.د دوی د کومک څخه یواځینی منظور نغدي پیسې دي هر یوه ته پـه کتـو د انسـان ترحم را پورته کیږي.

په مسکو کي مي یۋ فقیر ولیدئ چي یؤه عزتمنده کورنۍ یې درلودله پـه عـادي ډۋل پـر لاري أرام تللئ خو کله به پر رسته پښه او کله بیا پر چپه پښه انگوښېدئ. کلـه چـي بـه در سره مخ سو نو ستا په نظر به دا درتله چي سلام درته کوي خو وروسته به پر ملا خـم سـو خولۍ به یې له سره لري کړه او پیسې به یې درنه و غوښتې .او که به دي فکر ورته ونه کئ کوښښ یې کوئ چي خواته دي در سي او دا په نظر درکي چي ستا وه کومـک او پیسـو ته اړتیا لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که مو بیا هم ورته توجه ونه کړه مخ یې اړوئ آه یې کوئ او یو بـل لاروي تـه یـې ځـان رسوئ.

ما له ځانه وپوښتل هغه ولي د پیسو د پیدا کولو دپاره یوه بله لاره نه پیدا کوي مگر که څه هم آخر پوه سوم خو بیا هم د دې ډلي ژؤند زما دپاره تل یـوه معـما وه یـوه ورځ مـي یـو عسکر ولیدئ چي یؤ سوالگر په زور موټر ته پورته کوي.پوښتنه مي ؤکړه د دې بابـا جـرم څه دئ جواب یې را کئ سوال کول . دلته گدایي ممنـوع ده زه هـم ور پسي-پـه یـوه بـل موټر کي سپور سوم تر څو پوه سم ایا ریشتیا هم دلته گدایي ممنوع او سزا یـې څـه ده او ولي ممنوع ده، خلگ ولي یو انسان له دې منعه کوي چي له خپل هم نوعه انسان څخـه کومک وغواړې .ما باور نه سو کولای چي باوجود د دومره سوالگرو دي پـه مسـکو کـي سوال ممنوع وو.

بل آخره د پولیس موټر د یوې پوستې خواکي ؤدرېدئ أؤ ما هم د موټر چلونکي ته وویل چي لږ لري ترې ودرېږي پیاده سوم او زه هـم ور پسـې پوسـتې داخـل سوم گـورم چـي سوالگر یې درولی دئ او غواړي تر څو یې خپل رېس ته ورولې زه چي بې اجازې داخل سوی وم د رییس شوعبې ته داخل سوم ریېس چي خوا کي یـې تـوره وه او درېشي-یـې کړې وه د میز شاته پر چوکۍ ناست وو سوالگر انتظـار وو تـر څـو ورتـه د ورتـگ اجـازه ورکړل سي زه چي بې اجـازې ننـوتلی وم پوښـتنه مـي ؤکـړه دا فقیـر مـو ولي نیـولی دئ جناب! هغه چي ماته یې په تعجب کتله چي څه ډؤل بې اېجازې یې دفتر ته ننوتلی یم او

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترې پوښتنه کوم ویې ویل تاسو څوک؟ ومي ویل لیکوال ویې پوښتل د څه دپاره راغلی یې ما وویل غواړم پوه سم چي دا فقیر مو ولي نیولی دئ په جدي ډؤل یې راتـه وکتـل او ویې ویل : دا موضوع په کوم ځای کي په تا پسي ارتباط لري ښاغلی لیکوال صیب، ومي ؤیل کله چي زه ستاسو دپاره کتاب لیکم باید واقعیت ولیکم، د لوړ څخه امـر دئ، چـي باید دوی ټول کړم هغوی د دې دپاره دلیل لري که بیـا هـم اسرار لـري ورسـه د لوړپـوړو څخه پوښتنه وکه . د د ې ویلو دپاره مي څه نه درلودله معضورت مي ؤغوښتئ او د باندي راووتلم ساتونکي چي زما خبري اورېدلې وې خواته راته راغلئ، او ویې ویل دا کار لازم دئ ځکه که یې ټول نه کړو زیاتېږي په دې کي لاس مه وهه موږ دوی د کار کولو ځای ته بیا یو تر سو زده کي چي انسان باید کار وکړي او له کاره باید پیسې لاس تـه راوړي.ده ته مي هم د ویلو دپاره څه نه درلودله چي ورته ووایم د هغه ځایه راووتم او په خپـل کـار پسي ولاړم خو یوه خبره مي په ذهن کي راگرځېده چي ولي یؤ چاته گدایي خوشي ده تر څو گدایي ؤکړې یا هم د دوی تعـداد دومـره زیـات سـوی دئ چـي دولـت یـې نـه سي راټولولی.

ما دلته څو ډوله سوالگر ولیده یوه ډله داسي ؤه چي بس په همدې گدایۍ یې ژوند کولی بله ډله داسي ؤه چي ریشتیا مسکین تر سترگو کېده چي د کار او ژوند په تلاښ مسکو ته راغلي ؤه خو کله چي یې ولیده چي دلته کار نسته او ور سره پیسې خلاصي سـوې وې او د بیرته تللو دپاره یې څه نه درلودله ناچاره وه چي گدایي شروع کي ځکه نس لري او باید یو څه وخري، یؤه ډله د یو تصادف یا بدۍاتوب یا هم کوم بـل مشـکل پـه خـاطر د خپـل

(c) ketabton.com: The Digital Library

سروته ساقط سوې وه او ګدايي يې شروع کړې وه مګر يوه ډله داسي هم وه چي سالم او روغ وه هر کار يې کړلای سو او بيا يې هم ګدايي کوله زما د توجه محور هم همدغه سالم سوالګر وه.

زه لندن ته د علاج دپاره راغلی وم د ډاکټر د دستور سره سم څو ورځي ځنګل ته ولاړم هلته مي خلګ وليده چي په خوارئ سره لرګي أره کوې او پيسې لاس ته راوړي .هغوی په ورز کي د سخت کار وروسته د ځلوېښتو څخه تر پنځوسو کوفيکو پوري معاش لاس ته راوړلی خو په هغه کي يې هم پس انداز کولی او کله چي به مي هغه خلګ چي سالم وه او ګدايي يې کوله تعجب مي کولی او فکر به وړلم.

کله چي مي د خلګو سره د دوی په اړه خبري کولې نو دوی راته وويله دا خو هيڅ نه دي کله چي ته د مسکو وه سنتي بازار ته ولاړ سې او د هغوی د اوسېدو ځايونه ووېنې نو هلته به تا ته درک ولګېږي يؤ أوسېدونکي خوراته وويل دا اوس يو فرهنګ ګرځېدلی دئ او د دوی شمېر  تر پنځوس زرو نه هم اوښتی دئ دا چي زه په لومړي ځل مسکو ته تللی وم نو کله چي به دوی د خپلو غريبو خلګو خبري کولې يو ډؤل خوند به مي تري اخستی ځکه زموږ ټولني دومره وړتيا لرله چي فقير نه دي.

بل آخرهيوه ورځ  د مسکو سنتي بازار ته ولاړم تر څو هغه څه چي د دې سيمي خلګو يې راته صفت کوئ په خپلو سترګو وګورم خو وجدان به مي يؤه خبره راته بار بار کوله

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولي غواړې د خلګو تاريک ژؤند ووينې بـا وجـود د دې چـي هـيڅ مرسـته يـې نـه سـې کولای.

له بلې خوا مي زړه راته ويله ته يو ليکوال يې څه رنګه چي د ژوند اسوده برخي خلګو ته تشريح کوې بايد تاريکي خواوي يې هم ورته روښانه کې .

بل آخره په يوه يخه ورځ کي د مسکو سنتي بازار ته روان سومه .کله چي د بازار د څنـډو تېرېدمه د داسي خلګو سره مخ سوم چي د وجود څخه يې مرض اورېدئ عجيـب کـالي يې پر تن وه چيد بدن غړي يې ترې ښکارېده زما په فکر په يو خاص ځای کي خاص د دوی د پاره ګنډل سوې دي.جرابي او څپلۍ يې تر کاليو عجيبي ؤې څومره چي بازار تـه نزدې کېدلم د دوی شمېر په هغه اندازه زياتېدئ.

هغه څه چي ماته د تعجب وړ وو هغـه د دوی پـه متنفـر او عجيـب انـداز د تېريـدونکو خواته کاته وو سوالګرو ښځو هم زړې جامې پر تن وې او ګدايي يې کوله هغوی په زړو کالو ګډو وډو وېښتو سره يو څه لاس ته راوړل تر څو خپله او د خپلو اولادونو ګېډه مـړه کړي.

زه د دوی و خواته ورغلم کله چي مي د يوه سره خبري کولې او دا مي ؤرتـه وويلـه چـي راځه کار ته دي بوځم راته يې وويله ته د يوې بلي نړۍ سره تعلق لرې دلته څـه کـوې ايـا غواړې زموږ پر حال خپل دېغت وباسې يا دي هـم رېشـتيا زمـا پـه حـال زړه بـد سـوی او غواړې کار راته پيدا کې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما په فکر نه داسي انسان پيدا سوی او نه وجود لري چي موږ ټولو ته کار راکړي د دوی په منځ کي مي يؤ بل ولېد ئ چي سيرې کالي خوار وجود او په لسو پښو په يخ کي ؤلاړ وو کله چي مي دوه درې ځلي سترګي ور سره په سترګو کړې حس مي کړه چي د خبرو کلو دپاره زمينه برابوي.سر يې وښوروئ او داسي احساس يې راکئ چي زما پوښتنو ته جواب راکوې لومړی مي ورنه د پيدايښت د ځای پوښتنه وکړه.په ډېره علاقه يې جواب راکئ په دې وخت کي څو نور نفر زموږ خواته راغله او زموږ خلوت يې راته خراب کئ.

مګر چاره نه وه بايد ادامه مي ورکړې وای سړي چي خپل لاسونه يو پر بل موږل خپل د ژوند داستان يې راته ويلئ وروسته تر هغه چي د کلي څخه ښار ته راغلی وو او څو ورځي يې کار کړی وو بې کاره سو او نور يې نه سوه کولای چي پيسې تر لاسه کړي ناچاره سو تر څو ګدايي او سوال شروع کړي هر کله چي د ګدايۍ څخه هم څه په لاس نه راتله ځکه چي سوالګر زيات سوه او په نتيجه کي يې د هر يوه در آمد کم سو په هوټلونو او رستورانتونو ګرځېدم د خوارکي توکو پاتي شوني مي راټولول کوم چي هوټل والا په کچره دانۍ کي غورزول او ورځ په ورځ ضعيفه او ولوېدم.

پاته کسان چي هم زما شاوخوا راټول سوې وه يو ډول داستانونه يې درلودله ټولو همداسي ټوک او خيرني جامې پر تن درلودلې او پښې يې له زړو او شلېدلو څپليو راوتلې وې يوه ته مي يوه سيکه ورکړه او نورو محاصره کړم او څنګه چي د دوی تعداد

(c) ketabton.com: The Digital Library

زيات وو يو ډول شور ماشور جوړ سو ټولو خپلي سترګي په ما کي ګنډلې وې او په کتلو کتلو يې يو څه راځخه غوښته.

هر څه چي وو خو دې ټولو يو زړه بوږنوونکې او خواشينوونکې منظره درلودله شل روبله چي له ماسره موجود وه د دوی تر منځ مي تقسيم کړه هر يوه ته مي لسمه برخه ترې ورکړه و مې غوښتل چي ترې لري سم خو که چرته يې امکان وای څکه د دوی تعداد لحظه په لحظه زاتېدئ هر يوه زما طرف ته خپل لاس اوږد کړی وو او ما نه سوه کولای چي د لسګونه را اوږدو سوو لاسونو سره کومک وکړم.

بالاخره هر ډول چي وو ځان مي د دوی له منځه ويېستلی او د کور طرف ته روان سوم کله چي د کور طرف ته تللم پر لار مي د يو داسي کس په ډول چي يوه ګناه يې تر سره کړې وي احساس درلودلئ کله چي کور ته ورسېدم تر پرش سوې داليز تېر سوم خپلي څپلۍ مي وکښې او د ميز تر شا کښېنستلم کارکونکي زما مخې ته پنځه ډوله خوندور خوراک کښېښوئ ما د دې تر څنګ چي ډېر بد احساس درلودلئ ټولي هغه خبري چي مي کړې وي بې مفهومه او بې دليله راته ښکارېدې.

هغه شپه مي خپل احساسات د خپل دوست سره شريک کړه کله چي يې زما خبري واورېدې په يو ډول توهين آميزه او مسخراچي ډول يې وويل دا په لويو ښارونو کي يوه تبعي پدېده ده او زياته يې کړه زما تاثر د دې خلګو د ليدلو څخه يواځي د يو ليکوال احساسات او د ښاره لرې اوسېدل دي. ده وويل د فقر شتون يوه نوې خبره نه ده بلکي دا

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوه طبعي پدېده تر څو چې ژوند وي دوی به وي تر څو چې انسان وي همدا مخلـوق بـه وي فقر د اوسنۍ موډرني ټولني پیداوار دئ او باید صرف نظر یې وګرځوو نـه یـواځې پـه مسکو کې بلکې د لندن او د نړۍ په هر موډرنه سیمه کې همدغه حال دئ.

د خپل ملګري د خبرو مې سخت مخالفت وکړ او تر داسې حـده احساسـاتي سـوم چـې ښځه مې د خپله اوطاقه پـه منـډه بهـر راغلـه او د پېښـې پوښـتنه یـې وکـړه پـه داسې ډول عصباني سوی وم چې خپل لاسونه مې ښورول او په قهر مې خپل ملګـري تـه وویـل، یـا! دوی څنګه باید دا ډول ژوند وکي دا ډول زنـدګي د تـحمـل وړ نـه ده دغـه وخـت هغـوی ماته نصیحت وکئ تر څو د تونـدی، سـختۍ او عصـبانیت څخـه پرهېـز وکـم هغـوی مـې ملامت کړه چې ولي نه سم کولای پـه ارامـۍ او نرمـۍ سره خپـل مفهـوم تـر نـورو پـوري ورسوم نه سې کېدای چې د دې خلګو دا حالت دي زما د کورنۍ ژوند را تریخ کړي.

دا دلیل مې قبول کئ او څه مې و نه ویله اما دا مې ورته وویله چې زما قهر هم بې دلیله نـه دئ د هغې ورځې څخه هغه لږ ارزښت چې ماته ښـآري ژونـد درلـودلئ هـم ختـم سـو او یواځې مې د داسې ژوند څخه نفرت کول په زړه کې پیدا سو هغه خوندونـه چـې پـه ښـار کې دي او ما یې په اړه فکر کوئ زما دپاره یو ډول ذهنـي شـکنجه او وجـداني عـذاب نـه ماسوا بل هیڅ هم نه وه.

په ذهن کې مې فکر کوئ چې د ځان د ښه ژوند دپاره یو دلیل راوړم نـه مـې څـو کـولای چې خپل ښه او مجلل ژوند د دوستانو ښې بنګلې مجلل محلونه په ذهـن کـې راوګرځـوم

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځکه د دې مانیو په بغل کې داسي کسان ژوند کوي چې هغوی د یخ لوږي څخه زورېږي او شکنجه کېږي دا زما دپاره ناممکنه وه چې دغه دوه ډوله ژوند یو د بل سره اړیکه لري او دا یوه لومړنۍ او طبعي پدېده ده دغه فکر د همدې ورځې څخه تر وروستۍ ورځې پوري زما په فکر او روح کي همداسي پاته سو.

د هر دوست سره چې مي دا خبره شریکوله همدا زما د ښځي خبره یې راته کوله او زما په ذهن کي دا خبره راوګرځېده چي زه بل آخره یو مهربانه زړسوانده انسان یمه چې د یو ډول غریبو خلګو په لیدلو متاثر سومه.

په ډېري سادګۍ مي په همدې خبرو باور وکړ دا څو ورځې چې مې بد احساس په وجود کي وو یو نوی احساس مي په ځان کي حس کړ دا احساس په دې خاطر وو چې ما په خپل ځان کي د ترحم او زړسوي قوه حس کړې وه چې د داسي خلګو په لیدلو مي زړه او روح نا ارامه وو او حس مي کړه چي دغه ترحم ما د نورو همکارۍ او مرستي ته کشوي.

ورځې تېري سوې او ځان ته مي وویله دغه خلګ چې مسکو کي اوسېږي باید زما د خوشحالۍ د له منځه وړلو لامل نه سي او دا مي قبوله کړه چي دا زموږ موحیط دئ چې دغه حالت یې منځ ته راوړی دئ او داسي حالت دئ چي ځان ور څخه نه سو خلاصولی که څه هم خپل ژوند غریبانه کم بیا هم په دې سره غریبانو ته هیڅ نه سم ورکولی او د دوی بدبختي به هم پر خپل ځای پاته وي ببله دې چي خپل او د کورنۍ ژوند تریخ او

(c) ketabton.com: The Digital Library

بې خونده کم بنا پر دې د لومړي ځل پر خلاف و مې نه غوښتل چې په خپل ژوند کې کوم تغير راولم او فکر مي وکړ د امکان تر حده به دهغو غريبانو چې زما عواطف يې راپارولي دي د ژوند د اصلاح او ښې ګټې فکر وکم .

زه يو ځوان مرده انسان نه وم مګر غوښته مي چې د خپلو هم نوعو سره مرسته وکړم نو فکر مي وکړ چې زما ټوله فکر بايد پر خيريه او د ښې ګټو پر کارو راټول کم.

همدې وخت کې په مسکو کې د نفوسو سر شمېرنه شروع سوه چې دا زما دپاره يو ښه پيل وو ما همداسي په مسکو کې څو خيريه بنسټونه پېژندله زما نقشه دا وه چې د خانانو خلګو ترحم او عواطف د دې ډلې غريبانو په مقابل کې راوپاروم او بيا د دوی څخه پيسې ټولي کم او د کومي خيريه موسسې د لاري د دې غريبانو سره کومک وکړم او د سر شمېرنې له لاري بايد دا مالومه کم چې کوم څوک څومره قدر کومک ته اړتيا لري پلان مي درلودلئ تر څو بعضي کسان يې د مسکوه بهر ولېږم ماشومان يې و مکتبونو ته واستوم او سپين ږېري يې سپينږرتون و لېږم.

ما دا فکر وکړ چې يوه تلپاتې موسسه چې تعليم افته خلګ يې په همدې خلګو وګرځي او د دوی اړتيا وي راټولي کي يو اسانه کار دئ دوی بايد د حرفي په زده کولو نه يواځې دا چې دوی به د دې حالت څخه خلاص سي بلکې هغه د نفرت کتل چې دوی يې خانانو ته کوي د منځه ولاړ سي. موږ خانان به په ارام وجدان او زړه، پنځه ډوله خوندور خواړه په خپل مجلل کور کې په استراحت سره خورو او د دوی په نه شتون کې به د روح

(c) ketabton.com: The Digital Library

او زړه د دردونکي عذابه خلاص یو عبادت به په ارامه کوو او ښادی ته بـه پـه هوسـا روح ځان رسوو.

د دې طرحي د جوړولو سره مي په دې اړه یوه مقاله ولیکله او تر چاپ مخکي مي د هغـو دوستانو سره چي ما ور څخه هیله دلودله چي را سره به مرسته کوي شریکه کړه.

هغه خلګ چي ما ور سره دغه مقاله شریکه کړه ټول خانان وه او د دې طرحـي ګټـي مـي هم ور سره شریکي کړې تر څو دې غریبانو ته په کار ورکولو سره شاید نور په مسکو کـي غریب نه سي پاته او موږ وکولای سو چي په ارام وجدان سره و خپل ښه او مرفع ژوند تـه ادامه ورکړو.

ټولو به زما خبرو ته په خورا دقت غوږ نیولی وو خو کله چي به اصلي موضوع ته ورسېدم چي د دوی څخه د کومک غوښتنه وه نو ټولو به سرونه وځړول او و به یې ویـل هـو بلـې مګر په دې ښار کي دومره څوک به د دې طرحي سره لیوالتیا و نه ښـيي تـر څـو دا طرحـه تر کامیابۍ پوري ورسېږي طرحه ښه طرحه ده خو د دې ښار اوسـېدونکي بـه زړه نـه کـي ورته ښه که کار مخ ته ولاړئ او کامیابه سو زه هېڅ ډول همکاري نه درېغـوم د دوی ټولـو خبري یو ډول وې او ما دا فکر وکئ چي دوی ته زما خبري هسي اوتي بوتي ښکاري خو دا چي سترګي له سترګو شرمېږي نو مخامخ یې دا خبره راته نه سوه کولای.

بل آخره یوه یې هم و ماته کومي پیسي نه کړې را د ورځـي پـه آخـر کـي یـوه بـل مجلـل محل ته ولاړم چي خورا تشریفات پکښي روان وه خادمان په رسمي او مونظمو کالیو کـي

(c) ketabton.com: The Digital Library

وه په ورستي منزل کي د اشرافو ښځي چي پيشني کالي يې په تـن وه پـه خـورا غـرور سره راتـولي سوې وې د هر يوه د شتمنۍ سر تر اسمانه رسـېدئ کلـه چـي مـي دوی ولېـده دا فکر مي وکئ چي نه سم کولای د دوی توجه راجلب کـړم. دا چـي تللـی وم نـو لازمـه وه چي خپله نقشه هر ډول چي وي دوی ته تشريح کړم مـا پـه ډيـر تکليـف د خـپلي ترحـي تشرېح دوی ته وکړه چي له ډلې يې يواځي يوه نفـر د مـالي کومـک ټـېر ووهلـئ دا چـي دوی د دومره وقار سره نه سوه کولای چي دوی دي د غريبانو تر کورونـو ولاړ سي نوښـه خبره ده چي زه تر هغه ځايه ولاړ سم او دوی ته هغه غريبان ور معرفي کړم.

دغه کس هم و نه ويله چي څومره کومک او کله به دغه کومک وکړې يـو بـل ځـوان او يو سپينږيری هم حاضر سول چي زما فکري ملاتړ وکړي فکر مي وکئ دا ډول خلگ کـه کومک هم وکړي نو د دوی مخصد نوم گټل مېـډال گټـل دي بـل آخـره مـي پرېښـول او خپل کور ته وگرځېدم په کور کي په دې فکر فکـر کـي چـي خپلـه نقشـه مـي و نـه سـوه کولای چي عملي کم وېده سوم.

فکر مي وکئ چي ننه ورځ د يو بې مانا کـار دپـاره ټولـه ورځ وگرځېـدم کېـدای سي چـي زياتو کسانو پس شا راپسي خندلي هم وي خو بيا مي فکر وکئ چي بايد هيڅ شـی زمـا د خپل کار او لاري څخه و نه گرځوي او زه بايد پر خپله طرحه کار وکم.

زه د خپل وجدان په امر پسي تللم او دا د دې لامل سو چي بايد په خپله لاره کـي محکـم و اوسم او د خپلو خانانو ملگرو له خبرو تېر سوم او پـر خپلـه طرحـه لا محکـم او ټينـگ

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوم یوه ورځ وروسته مي مقاله د ښار تر ټولو ډېر ویـل کېـدونکي مجلې تـه ورکـړه چـي مقاله چاپ کړي د مقالې تر چاپ وروسته مي یوه مجله واخسته او دښاروالۍ شوراته مـي یووړه او هغوی ته مي واوروله د مقالې د وینا په وخت کي مي خوله وچېدله هر ډول چـي وو د مقالې تر ویلو وروسته مي د ښاروالۍ له چارواکو وغوښتل تر څو له خپـل موقفـه پـه ګټي اخستنې سره د ښاریانو او فقیرانو تر منځ خپلوي راجوړه کړي.

د مقالې د وینا په وخت کي په سالون کي عجیب سکوت وو یـواځي دوو نفـرو د شـورا د غړو څخه زما د وینا په وخت کي بعضي نوټونه ونیول او ویې ویل طرحه خورا ښـه طرحـه ده مګر غیر عملي ده چي د دې ټکي سره هغه ټول چي زما په خـبرو سره عصـباني سـوې وه راپورته سوه او خپل د برآت دلایل یې وړاندي کړل.

و مي غوښتل چي خطابیې مېز ته بیا ولاړ سم او دغه طرحه دوی تـه ښـه واضـح کـړم خـو کله چي دوی زه ولیدم چي د مېز سر ته ځم نو یو ډول شـور یـې پـه خپلـو منځنـو کـي و نښلوئ او ویې ویل موږ ستا مرحمت ته خورا درناوی کوو او غواړو چي دا طرحـه عمـلي سي خو د یو ناممکنه طرحه ده.

ولي په هر حال مجبوره سوه تر څو ماته غوږ ونیسي او د همکارۍ وعـده راکـي کلـه چـي مي د سرشمیرونکو د کارکونکو سره دا موضوع شریکه کړه چي زما قصـد یـواځي د دوی سر شمېرنه نه ده هغوی تعجب وکړ داسي یې راکتله لکه یو بې مفهومه خبري چـي اوري

(c) ketabton.com: The Digital Library

له بله اړخه کومه مقاله چي مي چاپ کړې وه هېڅ عکس العمل يې را ونه پاروئ آن يوه سړي هم زما سره د دې مقالې په اړه خبرې و نه کړې.

زما ښځي او اولادونو با وجود د دې چي زما نظر يې تايدولئ راته ويله چي ته نه بايد د دې طرحي د کاميابۍ اطمنان ولرې.

بل آخره زما هم دا زړه ته تېره سوه چي د طرحي کاميابي سخته ده. خو تصميم مي نيولی وو کومه لاره چي ماته ښه او غوره په نظر راځي بايد تعقيب کړم. زما نقشې زه خپلي خواته کشولمه خپله د هغې ناحيې چي بازار ته نژدې وه د هغې سرپرست سومه اورېدلي مي وه چي د مسکو ترټولو بد او وحشت ناکه د مسکو غربت به په همدې ناحيه کي مشاهده کړم په همدې خاطر مي د خپل مشر څخه د همدې ناحيې د سرپرستئ غوښتنه وکړه او زما غوښتنه وه هم منل سوه د اوسېدو ځايونه انسانان او ټوله شاوخوا بدبويه او چټل وه هري خواته چي دي پزه کش کړې واى ډېر بد بوى د سړي تر دماغه رسېدئ.

ډېري مندي چي بلا اولادونه يې زېږولي وه په عجيب نظر يې ماته کتله او د ويلو دپاره يې هېڅ هم نه درلودله فکر مي وکئ دغه بې چاره ګان چي دلته ژوند کوي د ډوډۍ تر څنګ ساعت تېري او تفريح ته هم اړتيا لري فکر مي وکئ چي دغه انسانان د نس تر څنګ احساس او عاطفه هم لري چي بايد د هغه په اړه يې هم بايد فکر وسي دا موضوع زما په فکر ښه راغله ځکه دا انسانان نه يواځي لکه پسونه چي يواځي د خوراک دپاره تر اخوره بېول کېږي ژوند وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما کوشش نه باید یواځي د دوی د خیټي د مړولو دپاره وسي بلکي د انساني نورو ضرورتونو په اړه یې هم باید فکر وسي ځکه دغه خلګ هم د نورو انسانانو په سیر انسانان دي او دوی هم د نورو انسانانو په څېر غریزې او احساسات لري.

خلاصه کله چي مي په ذهن کي دا خبري راوګرځېدې نو دا فکر مي وکړ چي زما نخشه بلکل نا درسته ده او په ځان کي مي د ناتوانی احساس وکړ چي د دې خلګو ضرورتونو ته خپل ځان نه سم رسولی مګر لکه څنګه چي مي مخکي درته وویل دا یو کار وو چي شروع کړی مي وو او د ادامي پرته مي بله لاره نه درلودله.

یو لاربنود چي له ما سره راغلی وو زه یې د هغو کڅافاتو د منځه چي هلته تیت سوې وه تېر کړم او د یو ساختمان اړخ ته یې ورسولم ده وویل په دې ودانی کي خورا زیات غریبان وسېږي او سر شمېرنه یې تر یوې ورځي زیات دوام پیدا کولالی سي.

زه په حیرانی سره د لاربنود په خواکي د هغه تعمیر خواته روان وم او د دې سیمي غریبو اوسېدونکو په تعجب زما خواته کتله د یو خان انسان ژوند هغوی ته عجیبه په نظر ورتللی نور سرشمېرونکي مي هم ولیده چي د نورو ودانیو خواته ورغله او دوی زما تر لاربنوني لاندي کار کوئ.

با لآخره هغه تعمیر ته ورسېدم او د سرشمېرني کار مي پیل کړ که څه هم د دغه تعمیر اوسېدونکي نسبت زما وه ودانی ته غریب وه خو بیا یې هم پورا نغدي مرستو ته اړتیا نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

درلودله ماته د دوی د خبرو څخه دا را معلومېده چې دوی نور څه نه لري يواځې او يواځې د خلګو په نغدي مرستو سره ژوند مخ ته وړي.

کله چې مې دوی ته وويل چې د دوی دوې لوڼې به په مکتب کې شاملې کړم دا يې قبوله نه کړه او دا يې غوره بلله چې د دې کار پر ځای دوی ته نغدي پيسې ورکړم زه د دې څخه پوی سوم چې دوی د دې انجونو څخه هم کار اخلي او د همدې لاري هم پيسې را جمعه کوي آن د يوې نيکي ښځې څخه پيسې غواړي کله چې مې د همسايه ګانو څخه پوښتنه وکړه هغو راته وويله کله چې دوی هر څومره پيسې راوړي نو هغه دلته ذخيره کوي. د نورو اوسېدونکو څخه مې هم مالومات وکړ پوی سوم چې دوی هېڅ پيسو ته اړتيا نه لري او اقتصادي حالت يې ښه دئ.

بل آخره راته مالومه سوه چې په دې ساختمان کې داسې څوک نسته چې مالي مرسته دې ورسره وکړم او د دې ساختمان پر هيڅ اوسېدونکي مې يقين او باور نه درلودلئ په نورو ساختمانونو کې مې هم د هغوی څخه پوښتنه وکړه تر څو راته ريشتيا ووايي تر څو د هغوی سره همکاري وکم په دې ساختمانونو کې هم واقعا داسې فقير چې پيسو ته اړتيا ولري نه سو پيدا.

ما په دې خاطر چې په دې ساختمانونو کې د هغه خلګو سره چې زه يې په لټه کې وم نه سوم مخ د ناراحتئ احساس کولئ ما داسې فکر درلودلئ چې په دې ساختمانونو کې به داسې خلګ ژوند کوي چې بد او دربدره ژوند به لري اما د دوی ژوند د هغه خلګو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژوند سره چي د ښار په منځ کي يې زندګي کول کوم فرق نه درلودلئ يـواځي دا تـوپير وو چي دلته خلګو په چټلۍ او بدبويۍ کي ژوند کولئ او په ښار کي حد اقـل نظافـت سـاتل کېدئ.

څه ډول چي په ښار کي بېلابېلي طبقي انسانان ژوند کوي لکه ښه ژوند متوسـط ژونـد بـد ژوند بد بخته خلګ ښايسته او بدرنګه دلته هم حالت همداسي وو دوی خارجي بـدبختي نه درلودله بلکي بدبختي د دوی په داخل کي وه بدبختي په دوی کي وه او پيسې هغه څه نه وې چي د دوی د دردونو دوا دي په وسي.

خلاصه: د دوی په منځ کي خورا ډلي ډلي خلګ وو لکه کسب ګر دنيـا داره غريـب خـو دوی داسي حالت کي نه وه چي پيسو ته اړتيا ولري مګـر د کومـک نـه مخکـي د دوی د ژوند بېلابېل اړخونه مطالعه کول خورا اړين وه. زه د داسي خلګو په تلاښ کـي وم چـي د دوی سره په مرسته کولو سره د دوی اړتيا وي پوره کړم او ور سره مرسته وکړم مګر پـه دې سيمو کي کوم داسي څوک نه وه چي دوی دي کومک ته اړتيا ولري.

يواځي هغه څه چي دوی درلودله هغه دا وو چي دوی غوښته چي په خپلو معصومو کتلـو سره د يو چا څخه يو څه پيسي تر لاسه کړي او هغوی ته په عجيب انداز وګـوري او دغـه غوربت چي دوی د هغه په واسطه ځانونه ډنګر او خوار ښول نه سوه کـولای چـي د دوی و دې بدبختۍ ته د پای ټکی کښېږدي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا صحیح ده چي هغوی د خپله ژونده ناراضه وه خو په پوره اطمنان سره ویلای سم که دوی په ښار کي کارکونکي هم وای دوی به د خپله ژونده ناراضه وای ښاریان هم د خپلي وضعي څخه ناراضه دي او د هغه څه په اړه چي دوی يې نه لري نا خوښه دي.

ما د دې دوو طبقو خلگو تر منځ په ظاهري ډول کوم توپیر و نه لیدلی د دوي او د هغه خلگو چي په ښار کي ژوند کوي څه توپیر دئ یواځي دا چي هغه خلگ چي په ښار کي ژوند کوي د دې بېنوایانو په لیدلو سره د زړه نه آه کشوي او د دوی په لیدلو د درد احساس لري او دغه بله طبقه بیا د نورو خلگو دکار څخه خپل ځان ته حاصل لاس ته راوړي.

د دوی دوو تر منځ توپیر یواځي د هیلو او هغو ته د رسیدلو په لارو چارو کي دئ زه پوهیدم او دا موضوع مي درک کولای سوه مگر ما مخکي د دې په اړه هیڅ فکر نه وو کړی او یواځي مي غوښته چي د دوی د ژوند تر خبرتیا وروسته د دوی کومک ته ور ودانگم.

یواځي یوه لار د دوی د کومک دپاره شتون درلودلئ او هغه دا وه چي د دوی د ژوند په اړه د فکر او طریقي بدلون وو او د دې دپاره تر ټولو ښه لار دا وه چي لومړی باید یوه ښه او غوره لاره پیداسي او د دوی ښه ډول پېژندنه وسي او بیا پر هغه اصولو باندي رفتار وسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما مشکل دا وو چې ما پر هغه لارو فکر کوئ چې دغه خلگ بايد له داسي حالت او د ژوند دا ډول طريقه بايد بدله کړي نه دا چې دوی په دې خاطر چې خپلي لومړنی اړتياوي او غذا نه سي ترلاسه کولای بدبخته دي بلکي دوی دا ستونزه لري چې د دوی معدې خرابي دي او د اشتهاوري غذا ته ضرورت لري يعني تر هر څه د مخه بايد د دوی د معدې علاج وسي.

که څه هم زما د ډېرو هڅو سره سره بيا هم هيچا دې ته زړه نه کئ ښه چې کومک وکي آن هغه خلگ چې ما يې په کتابچه کي نومونه ياداښت کړې وه خو بيا مي هم د يو څو کسانو سره د هغه څه چې دوی اړتيا ورته درلودله کومک وکړئ.

زما خطا دا وه چې تصور مي کوئ چې په هر صورت بايد د دې کسانو سره کومک تر سره کړم زما ځان غوښتنې د دغې چاري مخ ته وړل راته اسانه کړې وه غوښتل مي چې د غريبانو نومونه نوشته کړم او تر څېړنې وروسته د هغوی ضروورياتو ته رسېدگي وکړم.

دا چې د څو کسانو مشکلاتو ته به رسېدگي وکړای سم دا ماته روښانه نه وه او دا فکر مي کوئ هغه خانان چې دغه خلگ يې دغي تباهۍ ته ټېله کړې يوه ورځ به د دوی په نجات کي هم کومک او همکاري کوي په داسي حال کي چې د دوی سره تر مخامخ کېدو وروسته د دې ترحي ناکامي ورځ تر بلي ښکاره کېدله ځکه دغو سوال کوونکو د کار څخه ځان وېستلی او گدايي يې يو اسانه او استراحت مند کار بللی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

څوک کولای سي چي د دغو موجوداتو فکر او قضاوت ته تغير ورکړي زموږ په منځ کـي د خانانو خلګو په څير چي فعاله او ښـه زنـدګي لـري او هـيڅ خـواري او زحمـت هـم نـه کاږي او د دې تر څنګ زموږ په ټولنه کي خانان خلګ هغه خلګو ته چي فعالـه خـواري کښه دي څه او کوم ارزښت نه ورکوي او کله چي به مي دغه فکـر ذهـن تـه راتلـئ نـو ور سره سم به مي زړه ته لوېدل چي هيڅ څـوک او هـيڅ کـس د دې نـاروغۍ عـلاج نـه سي کولای هغوی په خپل ژوند کي کوم بد او ناخوښه څه نه ليـدل هغـوی ليـدل چـي بعضي- خلګ د دوی تحقير او سپکاوی کوي خو هغوی د دغه تحقير او سپکاوي دليل باندي نه پوهيدله او دغه وجه يې نه سوه پيدا کولای اکثرو يې دا فکر کولی چي دوی ښه او نيـک کار کوي.

د دوی په منځ کي يو هلک چي سيوژه نوم يې درلودئ زما يې زياته توجه جلـب کـړه او تکل مي وکئ چي حد اقل دغه هلک د دغي مرداری څخه نجات پيدا کي او يـوه لاره د ده دنجات دپاره و لټومه او په ريشتني ډول مي زړه ورباندي وسو.

هغه مخکي د يوه موچي سره کار کوئ مور او پلار يې نه درلودله خو کله چي مـوچي مـړ سو نو بې سره او سامانه پاته سو.

اوس غواړم چي خپله نيکي د دغه هلک سره تاسـو تـه ووايـم سـيوژه مـي خپـل کـور تـه راسره بوتلئ او هلته مي په اشپزخانه کي په کار ولګولئ اما نه مي سـوه کـولای چـي دغـه هلک ته د خپلو اولادونو په څنګ کي ځای ورکړم اما دا چي مـا دی پـه خپلـه اشـپزخانه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کي په کار وګمارلی فکر مي کوئ چي د ده سره مي کومک د کمال حد ته رسولی دئ. سیوژه نژدې اته ورځي له ما سره پاته سو په دغه ټوله وخت کي ما د هغه سره تر دوه ځلي زیاتي خبري و نه کړې.

مګر ما د اشپز څخه واورېدل چي هغه نه سي کولای چي دلته ارامه زندګي وکړي ښه غذا وخري او مناسبي جامې دي واغوندي او زموږ د کوره و تښتېدلی کله چي مي و غوښته چي هغه ووینم نو هغه له ما څخه منډه کړه او وتښتېدلی.

که د لومړی ورځي څخه ما د سیوژه ژوند ته توجه کړې وای نو زه به پوه سوی وای چي هغه ته غلته تربیه ورکول سوې ده. هغه دلته ولیدل چي زما اولادونه چي لا هم د ده همسنه دي خپله کار نه کوي او اشپازي ورته نوکران تیاروي پاکي او مهذبي جامې اغوندي د دوی نسونه په خوندورو خواړو ماړه دي لوښي په ډېره بې احتیاطۍ سره ماتوي او هغه خوراک چي د سیوژه دپاره خورا ځانګړی وو هغه زما اولادونو پر خپل سر هم نه تویوي.

هغه ځه چي سیوژه زما په کور کي زده کړه هغه دا وه چي هیڅ کار باید و نه کړو ښه وخرو ښه واغوندو او ښه ارام بیده سو نه دا چي زما اولادونه یواځي د اوس د پاره کار نه کوي دوی به په راتلونکي کي هم ارام ژوند کوي او زندګۍ د خوندونو څخه به خوند اخلي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

حقه خبره دا ده چي زما کوښښ د داسي تلف سوو ماشومانو په حق کـي بـې مفهومـه وو ځکه ما خپله خپلو اولادونو ته په یوه مجلل ځای کي د همداسي بـې کـاره او بـې فعالیتـه زندګۍ تربیه ورکوله.

په دې سر شمېرنه کي د یو ډول خلګو څخه متاثره سوی وم د کوچنیانو وضعیت یې شرم راوړونکی وو هغوی خپل ماشومان د ځانونو سره تر لارو او کوڅو وړي تـر څـو د خلګـو ترحم جذب کړي.

د سیوڅه تجربې ماته وښـوله چـي د دې خلګـو سره کومـک کـول سـخت او ناممکنـه او متناقض دئ کله چي سیوڅه دلته ژوند کولی غوښته مي چي د خپلـو اولادونـو وضـعیت د نوموړي څه پټ کړم او هر ډول کوششونه چي زه یې د سـیوڅه د ژونـد د ښـه کولـو دپـاره کوم بې ګټې دي.

ډېره اسانه ده چي یو څوک د ده غوندي هلک د ځان سره وساتي او نـس یـې ورتـه مـوړ کړي ښه جامې ور ته ور واغوندي او آن ښونځي تـه یـې ولېـږي امـا دوی تـه د ښـه ژونـد کولو او کار کولو توصیه کول بیا خاص زما غوندي خلګو دپاره چي خپله هم کوم کار نـه تر سره کومه ناممکنه ده.

زموږ د ژوند عکس کوم څه چي دوی ته ورښايي هغه د کار نه تر سره کـول دي د سـویڅه تللو په ما کي د ناراحتۍ حس نه را ولاړوئ بـل آخـره هغـه نقشـه چـي د بینوایـانو سره د مرستي دپاره مي ترحه کړې وه تر سره کړه او په دې وخت کي بعضي خلګـو ماتـه د دوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره د کومک دپاره ویلي وه د یوې میاشتي په جریان کي مي تر سلو پوري داسي فقیـران یاداښت کړې وه چي کېدای سي زه ور سره مر سته وکړم یـو څـو نومونـه مـي واخسـتل او پاتي مي بې جوابه پرېښول ځکه چي د دوی سره مرستي هیڅ امکان نه درلودلئ.

بل آخره ما ونه سوه کولای چي د دې ډلې دومره ډېري غوښـتني دي پـوره کـړم د دې تـر څنګ هغه خلګ چي زما سره یې د کومک ټېر وهلـی وو او آن داسي خلـګ وو چـي د کومک اندازه یې هم مالومه کـړې وه هـیڅ داسي څـوک نـه سـو پیـدا چـي آن یـو روبـل کومک دي هم وکړي.

د هغه لس زرو روبلو پر ځای چي خانانو راسره د دې دپاره چي دا بدبختي د منځه یوسـم یواځې هغه کارمندان چي زما ترلاس لاندي یې کار کوئ د هغه پیسو څخه چي دلته دوی ته ورکول کېدي یواځې د لس روبله کومک وکړئ مجبور وم په همدې لسـو روبلـو چـي زما کارکونکو کومک کړی وو او شل روبله چي د ښارجوړونې د خوا څخه د سرشـمېرني د دفتر سره سوی وو بسنه وکړم او دغه دېرش روبله زما سره وه او نه پوهېدم چي دغـه شـل روبله څه ډول تقسیم کړم. بل آخره د سرشمېرني کار خلاص سوی وو،

یوه ورځ د دې تر مخه چي کار خلاص کړم د هغه شلو روبلو سره چي زمـا پـه جیـب کـي وو د سوالګیرو کورنیو کمپ ته ولاړم یو مریض مي پیدا کئ چي پنځه روبلو تـه یـې اړتیـا وه ور مي کړه ښه نو په پاته پیسو څه وکړم؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چي ما هغه مريض ته پيسې ورکولې نو زما پر شاوخوا باندي خورا ډېر سوالگر را جمعه سوه او هر يوه د پيسو غوښتنه درلودله دا چي مايې په اړه مالومات نه لرله نو له منځه يې همداسي راووتلم او د کور پر خوا ولاړم.

پر لار مي يو سپينږيری وليدئ چي د مسو او اوسپني ټوټي يې راټلولې او د نل سره يې په ښه اواز سره سندره ويله، ده ته ور نژدې سوم او خبري مي ور سره شروع کړې تر څو مالومه کړم چي پيسو ته اړتيا لري که نه؟

يواځي يې ژوند کوئ، او د اشغالو د منځه د ارزښتمندو شيانو په ټولولو يې خپل ژوند مخ ته وړئ . دومره پيسې يې پيدا کولای سوې چي يواځي يې د خوراک او څښاک بس وي د هغه څخه مي د هغو خلگو په اړه وپښتل چي څوک پيسو ته اړتيا لري هغه راته غوصه سو او ويې وويله چي هيڅ اړ سړی نه پېژني اته روپۍ مي ده ته ورکړې هغه يې په خوشحالۍ واخستې او د ساقي خانې پر طرف ولاړئ.

زه هم د کور پر خوا ولاړم او د کور د صاحب په مرسته چي يو شريفه سړی وو يو څو مستحق کسان مي پيدا کړه او پاته پيسې مي د هغوی تر منځ وويشلې په دې ترتيب زما د کومک او همکارئ سلسله پای ته ورسېده او دې نتيجې ته ورسېدم او دا فکر مي وکئ چي خپل ژوند ته په همدې کلي کي ادامه ورکړم.

زما د نيکئ او ښېگڼي حس لکه د ديگ توښ هوا ته وختئ او د تل دپاره ورک سو خو هغه تاثرات چي ما تر لاسه کړه نه دا چي زما په روح کي د تل دپاره پاته سوه بلکي په زړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کي مي د هغوی سره د کومک احساس وو خو په دې عقیده رسېدلی وم چي زه د هغـوی دپاره هیڅ هم نه سم کولای او کله کله به دا فکر رالوېدئ چي هغه لږ کار چـي مـا د دوی دپاره وکئ هغه د دوی دپاره کافي وو او نور څه ته اړتیا نسته همدا لامل وو چي په ما کـي د دوی سره د میني یو ډول احساس کرل سوی وو ما هـیڅ کلـه د خپـل ژونـد او د دوی د ژوند تر منځ نا برابري نه حس کوله او هیڅ اذیت مي نه لیدلی.

کله چي ښار ته  د تداوئ کولو دپاره ولاړم غوښته مي چي د معالجې په برخه کـي خیریـه کار تر سره کړم امید مي درلودلئ چي زما وضعیت د نورو سره همدا شان وي مگر په ښآر کي د خورا زیات او حقیقي فقر سره مخ سوم آن دا چي نه پوهېدم د یو خیـر غوښـتونکي سره څه ډول رفتار وکړم.

 و مي غوښته چي یوه مقاله د خپلو سترگو لیـدلو حـالتو او د خپـل کـار د پرېښـولو پـه اړه ولیکم او د لومړئ مقالې چي نشر کړې مي وه  اصول او قاعدې بیا تاکید او تکرار کـړم او ومي غوښته چي په ښارونو کي د فقر د زیاتوالي پر عواملو وړغېږم او ووایم چي څه لامل سوه چي فقر په ښارونو کي اوج ته رسېدلی او څه ډول کولای سو له دې مکروبه انسـانان وژغورو.

 ولي هر څو چي مي هڅه وکړه و قلم ته مي گوتي نه ورتلې. اصـلا نـه پوهېـدم چـي کـوم تاثیر لري که یا ما د خپلي لومړنۍ مقالې عکس العمل لیدلی او تیجه یـې مـا پـه لاس کـي درلودله ما په دې حالت کي داسي حس درلودلئ لکه یو څوک چـي خپلـه ډوبېږي او د

(c) ketabton.com: The Digital Library

نورو سره د کومک هڅه کوي او دا راته ثابته وه چي پر سسته مځه مي تکيه لګولې ده فکر مي کولای چي ولي د دوی سره مرسته نه سم کولای  په دې وخت کي مي دا دليل را پيدا کئ چي زما کوښښ د دوو وجهو څخه ناکامه سو اول دا چي د ښآر غريبان خورا ډېر دي  او دويم دا چي د کلو د مسکنانو سره کلي اختلاف لري.

وروسته مي د ځانه وپوښتله په ښار کي د فقيرانو د را يو ځای کېدو علت څه دئ خپله مي ځان ته جواب ورکئ چي هغه کسان چي په کلو کي د روان معاش د پيدا کولو څخه عاجزه سي نوښار ته راځي او د خانانو پر شاوخوا جمعه کېږي او د دوی شمېر هم ورځ تر بلي زياتېږي اصلا دوی د روزی د پيدا کولو دپاره ښآر ته تللي او ځي نه د بل څه دپاره.

په ښار کي د روزي پيدا کولو څخه منظور څه دئ کله چي دغه جمله ښه په غور سره فکر ته واچوئ نو دا جمله يو ډول شوخی ته ورته ده ځکه يو څوک څه ډول د کلي څخه چي هلته د غنمو او نورو ضروريـاتو کرونـدې دي هلته کارونه دي  بيا هم دوی د روزي د پيداکولو دپاره ښار ته مخه کوي او په کلو کي باوجود د دې چي کارونه ډېر هم دي روزي نه سي پيدا کولای.

ما د دې پوښتني دپاره د نورو خلګو څخه هم پوښتنه وکړه دغو خلګو داسي جواب راکئ چي دغه خلګ يواځي د روزي د پيدا کولو دپاره مسکو ته راځي څنګه چي زه هم خپله دې نتيجې ته رسېدلی وم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په مسکو کې نه څوک څه شی کري او نه د کوم شي نه کومه ګټه لاس ته راوړي خو بيا يې هم خلګ په اسانۍ او هوساينه کې ژوند کوي او تل پيسې د خپلې اسانۍ او هوساينې دپاره مصرفوي او يو څه برخه يې و دې کثيف او چټل مخلوق ته هم رسېږي.

کله چې مې د يو ډلې پوهانو سره دا موضوع شريکه کړه نو هغوی راته وويل که څه هم يوه برخه د دوی د کار دپاره مسکو ته راځې خو بيا هم يوه برخه يې د همدې کسب دپاره ښآرونو ته مخه کوي ځکه چې د ښـآر ښايستونه دوی پـه ناآګاهانـه ډول خپـل ځـان تـه راکشوي او دغه ښکلاګاني د دې سبب ګرځې چې د کلـو خلـګ دي ښـارونو تـه ځـان داخل کړې، اصلي لامل يې دا دئ چې هغه ثروت چې د کلو د زحمت کښو خلګـو چـې همدوی يې توليد کونکي دي د همـدوی حق دئ او د ښـارونو لټـانو تـه يـې انتقـالول د دغې بدبختۍ اصلي لامل دئ.

ما دا تحقيق وکئ چې په ټوله روسيه کې د سوالګرو همدا حالت دئ کوم چې پـه مسـکو کې تر سترګو کېږي ځکه هغه ثروت چې په کلي کې را منځ ته کېږي د تجارانو هنرمندانو کسب کارانو په لاس له کلي ښار ته انتقالېږي او دغه ډله بايد د دې دارايۍ د انتقـال دپـاره بايد په ښار کې ژوند وکې.

يوه بله ډله هم موجود وه چې د دې خانانو دپاره يې سخت کارونـه تـر سره کولـه دوی د کلو څخـه د دې دپـاره راځـې چې د ښـارونو د مالـدارو خلګـو د حمامونـو او اشـپزخانو کارونه تر سره کړي زموږ مفت خواره خانانو دپاره خورا موهمه وه چې ښار کې ښـه ژونـد

(c) ketabton.com: The Digital Library

وکو ښه جامې واغوندو ښه آسونه ولرو او يو مجلل ژوند تېر کو او هغه غريبـان چـي بايـد خانان وای  زمونږ و پاتي شونو ته يې سترگي دي د هغوی دپاره دا طبعي نه ده چي  بايد په همدې کفايت وکړي او په همدې سره خوشحاله سي.

دغو محرومو انسانانو يواځي په دې خاطر خپل شـعور د لاسـه نـه دئ ورکـړی چـي دوی غريبان دي بلکي د دوی په منځ کي د خورا لوړ استعداد او فکر خاوندان هم سته چي آن تر ما هم لوړ درک او تفکر لري، که مونږ فکر کوو چي غريبان زمونږ د مجلل ژونـد پـه اړه بې توجه دي نو اشتباه کوو د دوی دپاره دا عادلانه نه ده چي يوه ډله دي په ښـه او مجلـل ډول ژوند کولو ته دوام ورکړي او يوه ډله دي بيا سخت کـار وکـړي او زيـات وخـت دي آن ښه خوراک هم تر لاسه نه کړي او وږي دي بيده سي مگر په لـومړي سر کـي د دغـي بې عدالتی څخه غمجن او قهرجن کېږي مگر وروسته ورو ورو په دې پوهېږي چي دغـه لويه فاصله زمونږ او د دوی تر منځ يو طبعي او قانوني ده او بل آخره فکر کوي چي د کار کولو څخه لاس پر سر سي او په دغه مرض اخته سي.

بعضي د دوی خپل هدف ته ورسېږي بعضي ورته نـژدې سي او بعضـي-بيـا هـدف تـه تـر رسېدو وړاندي له پښـو و غـورزېږي او بيـا ورو ورو بعضـي-يـې غـلا بعضـي-يـې سـوال او بعضي يې په نورو غير قانوني لارو باندي لاس پوري کوي.

دا بسنه کوي چي خپل شاوخوا ته وگورو او فکر وکړو نو پـوی بـه سـو چـي دغـه خلـگ زمونږ څخه په تقليد کولو باندي يو داسي حالت ته رسېدلې دي او د فقر پـه شـله کـي يـې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژوند ته دوام ورکړی دئ ما چي څونه د دې فقیرانو او سوالګرو خلګو په اړه څېړنه تر سره کړه نو پوی سوم چي اصلي لامل د دې خلګو د بختی دا دئ چي موږ خانان د کلو څخه د ثروت او مالداری په لوټلو او ښار ته یې په انتقال سره دغه خلګ دغي بدبختی ته رابولو.

اصلا زه د دې لاري څخه دغي نتیجې ته ورسېدم اول دوی د همدې خانانو سره کرکه پیدا کوي او د دوی سره په کار کولو کي خپل همت د لاسه ورکوي او تل باید د خانانو د رضا کولو  کوښښ وکړې تر څو یوه ګوله ډوډۍ چي دوی یې دلته پیدا کوې له لاسه ور نه کړي.

زما د کومک د ترحي د ناکامی یو لامل هم د دوی نه صمیمیت او نه یووالی وو چي ماته یې د یو انسان نه بلکي د یو سامان په سترګو کتله او دغه ټکي زما او د دوی نږدې کېدل مشکل کړې وه اصلا دا زما د لیاقت د نه شتون نتیجه نه وه بلکي دا د دوی نه صمیمیت وو چي زه یې د مخکي تګ څه راګرځول.

څه ډول به د هغه خلګو سره چي خپل د ژوند حقیقت او واقعیت یې له نورو انسانانو څه پوټولی ور سره کومک او مرسته وسي. خبره داسي حالت ته رسېدلې وه چي آن کله کله به یې ښکنځل او نوري بدي خبري کولې.

یوه ورځ مي د یوه سپین ږېري سړي سره چي سایټي ایف یې نوم و او زما د خور کور ته یې رفت آمد درلودلئ دغه موضوع واضح کړه کله چي مي د سایټي اف سره ملاقات

(c) ketabton.com: The Digital Library

وکئ لا د خپلو باطلو فکرونو په تل کي وو خور مي زما د نقشې او ترحي په فکر کي وه د تل په څېر مي د هغې نقشې او ترحي تشرېح کوله او هغه نتيجه چي تـرې لاس تـه راوړل کېده په شدت سره دفاع کوله.

ما وويله هغه يتيمان او بوډان ګان چي غريبان دي بايد ور سره مرسته وسي او هغه دهقانان چي د دوی د لاسونو څخه د دوی شتمني لوټ سوې ده بايد بېرته و خپـل کلـو او خـپلي شتمنۍ ته واستول سي او موږ بايد د فساد د لمنځه وړلو دپاره بايد يـوه لاره جـوړه کـړو او که په دې طرحه کي کامیابه سو کېدای سي بيا کوم انسان بدبخته پيدا نه سي.

زما خور زما خبري په خورا مينه سره اورېدلې او د خبرو په وخـت کـي مـي زيـات وخـت سايتيي ايف ته کتله او څه ډول چي مي د هغه د تجربې او علـم پـه اړه اورېـدلې وه نـو مـا غوښتله چي هغه دي زما خبري تاييد کړي خاصتا مي دقت کولی چي نوموړی زما خبري ښه و فهموي دی هم د نورو ميلمنو په څير چي په کور کي په ارامه ناست وه بې حرکته او ساکت وو.

ما دا ذهنيت واخستئ چي زما خـبرو تـه کـوم ارزښـت نـه ورکـوي او د خپلـو افکـارو پـه درياب کي لاهو دئ زه چي د خپلو خبرو څخه ستړی سوی وم د هغـه څـه مـي د هغـه د نظر او فکر پوښتنه وکړه و يې ويل څه چي تا وويله بې مانا او عبـث دي ومـي ويـل ولي؟ ځکه چي د دې څخه کومه ګټه لاس ته نه نه راځي د اعتراض په ډول مي ورته وويله څـه ډول پايده نه لري ايا پايده نه لري چي يو وړی کس دي موړ کړم. ويې ويل يا يا تـه وږی

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه مړوې بلکې ته شاوخوا ګرځي او که کوم چا شل پولو پيسو ته اړتيا درلودله ور سره مرسته کوې ايا دا فکر کوې چې په دې پيسو دي واقعا د ده سره مرسته وکړه، يا يا ته بايد په دې پوه سي کوم څه چې هغوی ورته اړتيا لري چې مرسته ور سره وکړې هغه مانوي مرسته او کومک دئ نه مادي کومک په هغه صورت کي چې ته دوی ته پيسې ورکوې په ډېر لږ وخت کي دغه پيسې د هغوی څخه مصرفېږي.

يا ښاغلی سايټي اف زه لومړی د دوی ژوند مطالعه کوم او وروسته غواړم يا ورته د کار زمينه برابره کړم يا کومه مرسته چې مو په وسه وي ور سره وکړم، دا ډول نه سې کولای چې د چا همکاري وکړې نو بيا څه بايد وکړو پرېږدو چې د لوږي څخه هلاک او مړه سي، ولي مړه کېږي د دوی عايد ډېر زيات دئ ما چې څه د مسکو د غريبانو په اړه درته وويله تا لکچي غور نه وو پرکړی د دوی تعداد خورا زيات دئ يواځي په مسکو کي شاوخوا شل زره وږي کسان وجود لري په نورو ښارونو کي يې هم شمېر خورا زيات دئ و يې خندل او ويې ويل شل زره په مسکو کي نو ښه ستا په فکر په ټوله روسيه کي به څومره غريبان شتون لري يو ميليون به سي څومره.

زه يواځې د مسکو د غريبانو په اړه بحث کومه دا او د ټولي روسيې غريبان څه اړيکه سره لري. ډېر نژدې اړيکه لري که چرته کار کوې نو بايد د ټولو په اړه فکر وکړې او بايد ووايې چې هر خان يو غريب خپل کور ته راولي او د هغه څخه ساتنه وکړې که د دوی شمېر دوه برابره هم سي دومره خانان هم سته چې دوی ټول ور سره ځای سي ټول يو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځای یو د بل سره په شریکه ژوند وکړي یو د بل سره خبري وکړي دا خبري ټوله بې مانا دي او کومه داسي خبره مي نه ده تر سترگو سوې چي هغه دي زما دپاره موثره تمامه سي.

په دغو ورځو کي چي څومره به و غریبانو ته نژدې کېدلمه نو د سایټې اف د خبرو ارزښت راته ښه مالومېدئ کوم انسان چي حساس وي د دومره ډېرو غریبانو په منځ کي به پنځه ډوله غذا په خوند خوند وخري؟

نو بله چاره نه چي همدا ثروتمندان باید خپل خواړه د غریبانو څخه په پټه پټه وخري او ځان د دوی د سترگو څخه پنا کړي دا هغه یواځینی کار وو چي مور خانانو به تر سره کولی کله مي چي د خپلي کورنۍ د غړو د ژوند په اړه فکر کولی نو دا احساس مي کولی چي و غریبانو ته نژدېکت کوم مشکل کار نه دئ.

مور خپل ټول عمر داسي ترتیب کړی چي همیشه فاصله وجود ولري او موتوجه سوم کوم څه چي زه په خپل ذهن کي د خواخوږۍ او رفاقت د غریبانو سره لرم هغه کوم ریشتنې خبره نه ده زه په خوراک چښاک جامو او آن تعلیم کي یواځي د یوه روش څخه کار اخلو او هغه دا چي زمور او د خورانو تر منځ باید توپیر وسي او توپیر موجود وي.

کله چي ور سره اشنا سوم نو د دوی سره په کومک کولو زما په ذهن کي خورا تزلزل را منځ ته سوی وو او هغه مي ورځ تر بلي ناراحته او نا ارامه پیدا کولی ځکه هغه برخه پیسې چي دوی لاس ته راوړلې په هغه به ناراضه وه او که مي ډېري پیسې ورکولې هم نو بیا به

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم ناراضه مالومېده او د دې خلگو د ژوند ټوله برخه نا رضياتى نېولې وه آن ډېر وخت به يې د تنفر په ډول موږ ته کتله.

يوه ورځ يوه سوالگر چې ما ورته لس روبله ورکړه بېله مننې را څخه روان سولو او داسي را څخه روان سو لکه ما چې ور ته رد، بد او ښکنځل کړي وي، ما په دې وخت کې خپل ځان ملامت او نا راحته احساس کئ هغه د وجدان ارام چې به ما د کوم غريب سره تر کومک کولو وروسته احساسولى هغه احساس مي و نه کئ مگر زما خپل حالت نه وو اختيار کي او هغه احساس چې ما د غريبانو په اړه ذهن کي درلودلئ وژلى يې.

ما غوښته چې د دوی ژوند زموږ د ژوند غوندي عادي او ارامه وي او ما دا احساس درلودلئ چې د ښېگڼي خوند به تر دې وروسته حس کړم او کله چې به مي د هر غريب سره څومره ډېره مرسته کوله هغه به هغه پيسې ډېري ژر مصرفولي بېرته به خپل ژوند او سوال ته راگرځېدلى.

څو ځلي مي دا تجربه تر سره کړه خو د معمول په څېر هغه به هغه پيسې برباد کړې او بېرته به خپل ژوند ته راوگرځېدئ ما نه سوه کولای چې داسي خلگ له خپلي شاوخوا څخه وشړم او مجبور سوم څه چې مي درلودله هغه به مي ورته بخښله خو آخر دا پوښتنه راسره پيدا سوه مگر تر کومه؟ څومره؟ او تر کومه ځايه؟

زه په دې پوه سوم چې زما د کار مقصد د لومړی ورځي څخه غريب دوستي نه وه بلکي د ځان ښونه وه او که زما مقصد دا وای نو ما به تر څه کومک وروسته د څه ارامی

(c) ketabton.com: The Digital Library

احساس کولی مګر زه اشتباه وم د هغوی فقر داسي لوړې وه چي نه ختمېده بلکي فقر به نه ورته وایو بلکي د هغوی بې باکي د هغوی فرهنګي لوړې د هغوی حرص.

په لومړي کي مي اورېدلې وه چي خلګو زما په اړه داسي ویله چي دا کس خپلي پیسې پر ډېران غورځوي او کوم داسي ګټوره نتیجه هم په لاس کي نه لري او دوی دا فکر کوئ چي دا سړی د خورا زیاتي سرمایې لرونکی دئ، مګر داسي نه وه زما سرمایه څه زما د کار او څه زما د کتابونو د پلورلو څخه لاس ته راتله او دغه پیسې مي پر همدې لاري مصرفولې او ما دا ښېګڼه او نیکي بلله مګر نیکي او ښېګڼه اساسې او اصولي کار غواړي خو ما دا اصول نه پېژندله.

بلاخره مي د ځان څخه و پښتل څه بايد وسي زه د خپلي بې عقلۍ او خپلي ناپوهۍ اخري حد ته رسېدلی وم او په دې مي اعتراف کړی وو او په همدې خاطر مي ډېر رنځ او تکلیف ذهني شکنجه لیدله مګر په راتلونکي کي مي د داسي اشتباه تکرار ته باید زړه نه وای ښه کړی او خپلي اشتباه ته متوجه سوی ومه.

آن تر دې حده چي د نورو غریبانو په غم کي دومره ورک سوی وم چي ځان مي خپله غریب او خوار کړی وو مګر حقیقت دا دئ چي زه غواړم چي ټول خلګ له لوږي او غریبۍ څخه لري ژوند وکړې او هیڅ څوک هم د دې مرضه و نه کړېږي او ټوله انسانان وکولی سي په طبعي ډول ښکلی ژوند پر مخ یوسي دا زما یوه هیله ده مګر د نا برابرۍ ظلم او دنیادارانو او تجارانو په واسطه د غریبانو څخه د دوی د ژوند لومړنۍ اړتیا وي

(c) ketabton.com: The Digital Library

اخستبل کېږي یو بل لامل یې زموږ غونـدي بـې کـاره او تمبـل خانـان دي چـي د نـورو د زحمت او خوارۍ او په خولو لاس ته راغلي لومړنیو ضروریاتو څخه استفاده کوو.

هر څو که په دې اړه فکر کوو خو دا خبره ښکاره ده چي موږ کوم کـار تـر سره کـوو کـم دئ او کومه ګټه چي لاس ته راوړو زموږ تر خوارۍ ډېره ده موږ وینو چي زیاتره کـاریګر مجبوره دي تر څو ډېر او سخت کارونـه یـواځي د دې دپـاره تـر سره کـي تـر څـو خـپلي لومړنۍ اړتیا وي لاس ته راوړي له بله اړخه وینو هغه کسان چي دولت مند دي یـا غـواړي چي دولت مند سي د غریبانو د زحمته څخـه خـورا زیـات عایـد لاس تـه راوړي او خپـل ژوند په خورا رنګین ډول مخ ته وړي.

په نتیجه کي ورځ په ورځ غریبانو ته ژوند سخت او د کړاونو څخه ډکېږي او زموږ خانـانو ژوند د اوسنیو ټکنالوجیو او علمي چلونو او دوکو په زور چـي زده کـړي مـو دي ورځ تـر بلي لوړ طرف ته ځي.

نو په داسي حال کي څه باید و سي ځکه موږ خانـان ورځ تـر بـلي خانـان کېږو او داسي حال ته رسېږو چي په خوانیو وختونو کي داسي ژونـد یـواځي خلګـو پـه خپـل خـوب او خیال کي لیدلی سو قیصه تر داسي حاله رسېدلې ده چي یوه ډله زمـوږ خانـانو خـو داسي حال ته رسېدلي دي چي خپل ځان او اولادونه یې د کار د قیده او تکلیفـه خـلاص کـړې خو بیا هم د غریبانو د خولو په زور سره ورځ تر بلي یې سرمایه زیاتېږي او دغه سرمایه یې اولادونو ته په میراث پاتېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نورو خلګو په ذهن کې د داسي خلګو ژوند يواځي د هغوی هيلي او غوښتني او خيالات کېدلای سي دغه وضعيت په خپله موږ خانانو ايجاد کړی دئ او بيا وروسته ښارونو ته ځو چي هلته هيڅ شی نه را منځ ته کېږي او يواځي مصرفېږي هغه کار کونکي چي زموږ سره په کار کولو زموږ په مرض اخته سوي په موږ پسې ښارونو ته راځي وروسته دوی په چلبازۍ شروع کوي او د دې دوو لارو څخه حتما يوه لار نه يوه لاره ځان ته انتخابوي يا ځان ته داسي کار پيدا کوي چي کم کار وکي او ډېر عايد لاس ته راوړي او يا هم خپله ټوله دارايي بايلي او بيا د سوالګرو د بېوزلي او وړي ټولنې او ټولی سره يو ځای کېږي.

هو موږ د داسي طبقې خلګ يو چي د غريبانو د لاسونو څخه د هغوی شتمني لوټوو او بيا د هغې په واسطه سره بېرته همدې طبقې ته دوکه ورکوو واقعا که موږ ريشتيا هم غواړو چي د غريبانو سره کومک وکړو نه بايد د هغوی هستي او شتمني لوټ کړو خو موږ داسي زياتي حيلې جوړوو چي موږ بايد داسي زندګي وکړو چي زموږ دپاره سلګونه او زرګونه غريبان او بېنوايان کار وکړي او موږ شتمن او دونياداره کړي.

زه د هغه سړي په شان يم چي د يو پر شا ناست يم او کشوم يې غواړم چي د هغه ژوند سم کړم او هغه ته د ژوند کولو امکانات برابر کړم بلکي که زه ريشتيا هم غواړم چي د دوی سره کومک وکړم نو بايد زه خپله د دوی د فقر او بېوزلی لامل و نه اوسم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

موږ یواځې د دې دپاره چې خد ارضایې وکړو او ځان خلګو ته ښه او غوره ثابت کړو نو سل یا هم کم او زیات روبله د یو غریب سره کومک کوو او هغوی نور هم د همدې فساد په مرداره کنده کې ډوبوو.

موږ څوک یو او زه څوک یم چې د نورو په اړه بحث کوم موږ ټوله شپه په خرمستۍ تېروو خوشحالي کوو او له ځانه ناخبره بېدېږو سحر باید یوه ډله راسي چې زموږ نامنظم کړي ځایونه را منظم کړي او موږ د خوبه راکښېنوي او آن موږ د هغوی خواته د انسانیت په سترګه هم نه ګورو څوک چې سحر وختي راپاڅېږي او تر ناوخته د شپې کار کوي او هغه هم د یو کم قیمت او مزدورۍ په مقابل کې، هغوی باید پر یوه کلکه تخته ویده سي تر سو بیا سحر وختي راپاسي څوک خیاطي څوک تبر په لاس لرګو پسي ـ ځي او څوک نور سخت کارونه تر سره کوي.

دغه خلګ په کسب ژوند انسانیت او رحم دیلۍ کي تر موږ خانانو خورا زیاته برتري لري او تر موږ خانانو زرځلي زحمت کښه او درانه انسانان دي که دوی کار او مزدورۍ او خوارۍ ته وکتل سي نو زرځلي زموږ خانانو پر کارونو باندي ښېګني لري نو تاسو فکر وکړئ موږ اوس غواړو له داسي غوره خلګو سره کومک وکړو چي اصلا موږ د هغوی کومک مستحق یو.

موږ یواځې خوراک کوو بېدېږو بېرته بیا خوراک کوو او بېرته بېدېږو موږ اصلا له دېنه پرته نور هېڅ کار نه کوو او زموږ د داسي ژوند دپاره باید اشپز خټګار خیاط صفاکار او

(c) ketabton.com: The Digital Library

داسي نور باید کار وکړي او موږ ورته وېده سو دا خلګ د دې دپاره زحمت او کار کـوي تر څو زه ارام وکم خوب وکم تفریح وکم بېله دې چي مـوږ د هغـه کسـب او خـوارۍ تـه احترام او درناوی ولرو او بلاآخره موږ بې چاره ګـان چـي د دوی د خواریـو د برکتـه ارام او هوسا ژوند او او د دوی د خواریو نتیجه خورو چیښو، غواړو کومک ور سره وکـړو زه دې ته حیران یم چي دا ډول خام فکر څه رنګه زما په ذهن کي ځای پر ځای سوی وو.

څه ډول ما دا فکر کوئ چي د هغو لږو پیسو په خیراتولو چي هغه هم تر ډېره زمـا د خپـل لاس خواري نه ده د افرین شاباسي وړ و اوسم موږ هیڅ کله چاته بېله کومي پایلي څه نـه ورکوو، یا غواړو مشهور یا غواړو خلګ مو ستاینه وکړي. تـر څـو مراسـم ورتـه ونیسـو او ټول خلګ ما ووینې.

د دغو ټولو کومکونو نتیجه دوه جنایته زما ځان ښونه او د فقیر نور هـم پـه فقـر او غربـت کي دننه کېده دي دا چي موږ وایو چي غریبان ولي زیاتېږي د دې سبب دا دئ چي مـوږ د دوی پر حقوقو یا په نا اګاهانه توګه خېټه اچولې ده او یا هم د دوی د حقوقـو د خوړلـو دپاره دروغجني بهانې لټوو.

نو دې پوښتنو ته باید دوه جوابه ورکړل سي چي دا هر څه بـدل کـړو یـا دا چـي دا پدېـده صحیح ده او باید ژوند همداسي روان و اوسي څکه موږ چـي کلـه هـم د همـدې خلګـو سره مخکېږو زیات عمر د میاشتي په پای کي چـي هغـه وخـت هـم آن نـه غـواړو چـي د هغوی قواره ووینو او کله چي د هغوی میاشتنی عایـد ورکـوو نـو مغرورانـه یـې ورکـوو او

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځان تر هغوی ښه احساسوو دا عجیبه نه ده نو بیا ولي لیونیان ملامت بولو مـوږ فکـر کـوو چي زموږ پیسې زموږ د کار حاصل دي خو که فکر وکو کوم کار؟ مـوږ څـه کـړي؟ چـي دومره پیسې تر لاسه کوو با وجود د دې چي دا زموږ د کار پیسې نه دي بلکـي د کـارګر د لاس او خوارۍ پیسې دي.

ډېر وخت کېږي چي په امریکا او روسیه کي خورا ښه قوانین لیکل سـوې خـو پـر کاغـذ باندي په نتیجه کـي خانـان ورځ تـر بـلي خانـان کېـږي او غریبـان ورځ تـر بـلي زیـات او خوارېږي اصلا دا یو اخلاقي فساد دئ چي خانان یې کوي چـي دوی د حیوانـاتو مرتبـې ته کښته کـوي او دا یـو داسي حالـت دئ چـي د انتسـان ټـول انسـاني حـواس وژني او د خواخوږۍ فکر یې د مزغو څخه باسي.

یوه ورځ چي د خپل زوی اطاق ته ننوتـم هلته کار کونکي د هغه دپاره اور بلولی او دی لا ویده وو با وجود د دې چي ده ته یې سهارنۍ جوړه کړې وه او ده ته یې ځو ځلي ږغ هـم کړی وو مګر دی نه وو کښېنستلی فکر مي وکړئ داسي یو کارکونکی چـي سـهار وختـي پاسېدلی وي او خواري کاږي د داسي ټمبل او لټ دپاره باید هیڅ هم و نـه کـړې خـو بیـا مي فکر وکئ نو دوی به څه کوې پرې مي ښـولی خـو مـوږ ټـول بایـد دا فکـر وکـو چـي ځوک غوره دي او چاته باید د احترام په سترګه وګورو.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**